# پښتانه د ولس پېژندني له نظره

(د ارواښاد ډاکټر کبير ستوري له ناچاپه ليکنو څخه)

د ليکلو نېټه: فبروري ۱۹۷۳

پښتانه په افغانستان کښې تر ټولو ستره ولسي ډله ده.
پښتون قوم په **1893** ع کال کښې د «ډيورنډ» د خيالي کرښې په نامه د انګريزانو له خوا په ټوټو ويشل شوی دی. پښتون، پشتون، پختون، افغان، پټهان او روهيله اصطلاح ګاني د همدغه يو قوم نوم دی چې د کرښې دواړو خواوو ته مېشت دي.
پښتانه د ګډې (مشترکې) ژبې، نسل او د ټولنيزو (اجتماعي) او کولتوري ځانګړو (خاصو) ګډو ارزښتونو له نظره د کولتوري ټولنې په مانا يو ولس ګڼلی شي.



په درېيمه مسيحي پېړۍ کښې پښتنو ته د افغان نوم ورکړل شو، که څه هم افغان يو داسې اصطلاح يا نوم دی چې پښتانه پرې د نورو له خوا نومول شوي دي، خو د وخت په تيريدو سره د پښتنو خپل نوم ګرزيدلی دی.
د پټهان اصطلاح يوه هندي يا اردو اصطلاح ده چې په هندي ژبه کښې پښتون تلفظ کېږي، خو په اردو ژبه کښې بيا پښتون ته پټهان وائي.
د هند د نيمي وچې (قاري) په ځينو برخو کښې پښتنو ته روهيلا هم ويل کېږي، چې د غرونو د اوسيدونکو مانا لري.
پښتون / پشتون/پختون د دغه ولس خپل لرغوني (پخواني) نوم دی. دا چې نن ورځ هر هغه څوک د افغانستان تابعت ولري افغان ګڼل کېږي، نو لدې کبله دغه اصطلاح د يوې ټاکلې (معينې) ډلې د تعريف لپاره مناسبه نه ده او له همدې کبله پدې ليکنه کښې د پښتون اصطلاح ته فوق العادګي، ارزښت او امتياز ورکول کېږي.
له پنځه شپيتو مېليونو زيات پښتانه چې د ډيورند د خيالي او تش په نامه کرښې دواړو غاړو ته اوسېږي، سربېره پر ګډې ژبې نور ټولنيز (اجتماعي) او کولتوري ګډ ارزښتونه او صفتونه لري چې د خپل هر يو ګاونډي څخه ئې بيلوي، چې د دغه صفتونو څخه يو ځانګړی صفت پښتونولي ده. پښتونولي د پښتنو د دود دستور يوه ټولګه (مجموعه) ده چې له يوه نسل څخه بل ته نقل کېږي او په ځينو ځايونو کښې د پښتونولۍ قانون او اصول په ليکلي ډول هم شته دی.
پت، ښېګړه، توره، وفا، ورورولي، ننګ، مېلمه پالنه، مېړانه، غيرت، انصاف، پنا ورکول، عزت، ننګ، بدرګه، ننواتې، ابرو، دروغ نا روغ پوښتنه، په ښه بده کې ګډون، د ژوند په چارو

کې د مشرانو او دوستانو سره سلا مشوره او داسې نور په پښتونولۍ کښې تر ټولو ستر مقام لري، لدې کبله ئي ارزښت هم ډیر زیات دی.د پښتونولۍ د زده کړې ځایونه کورنۍ، حجرې یادېږي او پښتني ټولنه ده.د پښتونولۍ زده کړه د ځېږېدو راهسې په کورنۍ کې پيل کېږي او ټول عمر دوام لري.

پښتونولي د جرګو یو ولسي سیستم (نظام) دی چې ډیموکراتیک (جمهوري) خوی لري، جرګه کېداى شي د کورنۍ، کلي منطقې، قبیلې او قام په سویه مېنځ ته راشي د ټول قام په سویه سره جرګې ته لویه جرګه هم وائي، خو دا جرګې دايمي نه دي موقتي (عرضي) غېر مرکزي او خپلواکه بڼه لري

د پښتنو جرګې د هر چا له خوا راغوښتل کېدلې شي او ډیر وخت د کمزوري له خوا او کله کله د پېښنو د ضرورت له کبله بې له دې چې څوک ئې راوغواړي مېنځ ته راځي او خلک د جرګې له پاره پخپله راټولېږي.جرګه ټولنیزې، سیاسي او حقوقي پرېکړې کولې شي، په جرګه کې هېڅکله رايې نه اخستل کېږي په هغه موضوع باندې چې جرګه ورته رابلل شوې وي تر هغو خبرې او بحث کېږي چې یوې موافقې او جوړجاړي ته د ټولو په خوښه ورسېږي او بیا پرې د دوعا لاس پورته شي.د جرګې راغوښتلو او جرګې جوړېدو سربیره جرګه لېږل کېږي هم، پښتانه د جرګې ډیر مخ او خاطر کوي او د ډیر څه نه ورته تېرېږي.

ماکس کلیم بورګ (Max Klimburg) اطریشي پوهان د پښتونولۍ د لاندی د پښتنو یو عنعنوي یا حقوقي سیستم باندی پوهېږي چې تر ټولو ستره قضا (عدالت) ئې جرګه ده او لیکې چې «جرګه» د ازادو ډیموکراتیکو کړو وړو سره سم نه مشر لري او نه د غونډې په وخت کې هر تن له پاره ټاکلي ځایونه وي سړی په ناپېلي ځای کې د هم غاړو کسانو په ډله کې ناست وي او هر څوک هر کله که وغواړي کولې شي چې پاڅېږي خبرې وکړي او لاړ شي.د جرګې د پرېکړو له پاره د رایو ډیر والی شرط نه دی، هېڅ کله رايې نه اخیستل کېږي بلکه د مخالفو کسانو شتوالی ارزښت لري، د جرګې



د پرېکړو عملي کونه د جرګې د ګډون کوونکو مهمه ټولنیزه دنده ده. (Max Klimburg 1968)

همدغسې ویلي کروزی (Willy Krause 1972) او ځیني نور بهرني لیکوالان پښتونولي یو حقوقي دود ګڼي.د پورتنیو لیکوالانو دا نظریه چې پښتونولي د پښتنو یوازې حقوقي دود یا سیستم دی مونږ ته بشپړه نه برېښي ځکه جرګه چې د پښتونولۍ تر ټولو ستر مقام دی یوازې حقوقي پرېکړې نه کوي بلکه ټولنیزې او سیاسي پرېکړې هم کوي.د دې خبرې ښه بیلګه دا

ده چې پخپله احمد شاه بابا په (۱۷۴۷ ع) کال کې جرګې باچا کړ. له دې کبله پښتونولي یوازې یو حقوقي سیستم نه شي ګڼل کېدلی بلکې ټولنیز او سیاسي سیستم هم دی. کلیم بورک (Kirnburg) وائي چې جرګه مشر نه لري په دې هکله پکار ده چې وو ایو چې جرګه مشران لري خو دغه مشران د ووټونو (رایو) په واسطه ټاکل شوي نه دي بلکې عنعنوي منل شوي کسان دي د بېلګې په توګه په یوه جرګه کې چې یو قومي مشر ناست وي نو سړي ویلې شي چې دغه جرګه د هغه د مشرۍ لاندې وشوه.



جرګه او حجره په پښتونولۍ کښې د دود او دستور ساتندویه دي. په حجره کښې د یوې کورنۍ غړي، خپلوان، دوستان، اشنایان، انډیوالان، ملګري، کلیوال او ګاونډیان د جرګې، مرکې، خبرو اترو ناستې پاستې، ګپ شپ، مېلمستیا، مالوماتو، موسیقۍ، غم او ښادۍ لپاره راټولیږي.

په پښتني ټولنه کې د پښتو ویلو یا لیکلو چې د ژبې پورې اړه لري او د پښتو کولو ترمېنځ توپیر کېږي چې د پښتونولۍ پورې اړه لري دنړۍ په ګوټ ګوټ کښې ټول پښتانه په یوه ګډه (مشترکه) ژبه خبرې کوي چې «پښتو» نومېږي. د پښتنو ژبه «پښتو» د لیک لوست ژبه ده. په پښتو ژبه کښې سړی دوه مهمې لهجې توپیر کولی شي چې یوه ئې نرمه لهجه او بله ئې سخته لهجه ده. دغه دواړه لهجې بیا نورې وړې لهجې هم لري.

په افغانستان، پاکستان او د ایران په ځینو سیمو کښې له ۲۵ مېلونونه زیات پښتانه مېشت دي.

په افغانستان کښې ستر ډېره کې (اکثریت) پښتانه اوسېږي، چې د لودیځ ولایت هرات څخه

نیولي تر فراه، نیمروز، هلمند، د کندهار او د قلاته پورې د ختیځ وخوا ته او د هغه ځای څخه د غزني، وردګ، لوګر، پکتیا، کابل او ننګرهار پورې، او له هغه ځای څخه د هندوکش د غرونو تر لمنو پورې یعنې د کاپیسا، لغمان او د کونړ په ولایتونو غزېدلې دی.

په شمالي او شمال لوديځ افغانستان کښې هم پښتانه اوسېږي چې د مالونو (څارویو) د څر د ځای او د کرنې د ځمکې په موخه د جنوبي افغانستان څخه هلته تللي او مېشت شوي دي، د دوی په مورنۍ ژبه «پښتو» د تاجکو ژبې څه نا څه اثر هم کړی دی خو بیا هم په هغې پښتانه دي.

دغه راز د یوه اټکل له مخې د افغانستان 5 مېلونه وګړي کوچیان دی چې د دغه کوچیانو تر ټولو ستره برخه هم پښتانه جوړوي.

د بلوچستان شمال او د کوټې، پشین، ژوب، لورالائي او د سیبي په سیمو کښې یوازې پښتانه اوسېږي. دغه راز د انګریزانو له خوا په نوموړ شوي سوبه سرحد (پښتونخوا) کښې هم یوازې پښتانه اوسېږي.



د پاکستان د **1961** ع کال په سرشمېرنه کښې جوته شوې ده چې یو زیات شمېر پښتانه په مېانوالي، راولپینډۍ، لاهور، ملتان، حیدر اباد، کشمېر او کراچۍ کښې هم مېشت دي، ګمان کېږي چې دغه پښتانه د اقتصادي علتونو له کبله دغلته تللي دي.

په ایران کښې د جنوبي خراسان او سیستان په سیمو کښې چې د افغانستان پولې ته څېلمه پرتې دي هم پښتانه اوسېږي، خو د دغه پښتنو شمېر سړی په صحیح توګه نه شي اټکل کولی، ځکه چې دوی په وړو وړو ډلو سره ژوند کوي او د ایران په سیاست کښې کوم رول نه لري.

ځنې وګړي په کښک او ګلران کښې چې د هرات ولایت په شمال خوا کښې پراته دي هم په پښتنو

کښې ورګډ يږي.
د پښتنو لرغوني (پخواني) تاريخ تر اوسه په بشپړ ډول نه دی څيړل شوی، خو د دوی هيواد په اوو م عيسوي قرن کښې د سليمان غرونه ؤ. د دغه ځای نه دوی شاو خوا ته خپاره شوي دي. چې له همدې امله ځنې نور خلک او قبيلې له دوی سره ګډې شوي.
د بيلګې په توګه د نسل پيژندنې پر بنسټ د کرلانې قبيله د پښتنو د رضاعي ځوی عمر له کبله د پښتو هډ وګرځيد چې د هندو کش خوا ته مېشته ؤ، او ځانګړې ژبه ئې لرله، چې د هغې نښې نښانې اوس د لوګر په وادی او مرکزي وزيرستان کښې شته دی او د باجوړ هغه وګړي چې ملاکنډ په شاو خوا کښې او سېږي د پښتنو څانګه ده.
په ډيره اسماعيل خان او سکهر کښې ځنې ډلې او سېږي چې بلوڅ پښتانه دي او په پښتو خبري کوي.
په منځنيو پيړيو کښې د امو درياب ختيځ خوا ته د پښتنو پاچاهي وه چې د بيټنو پوري ئې تړاو لرلو. بيټني په لودی او سوري قبيلو ويشل کېږي چې په ۱۲مه او ۱۷ مه پيړی کښې ئې په ډيلي حکومت کړی دی.
د ايران د نادر افشار د مرګ وروسته احمد شاه دراني (احمد شاه بابا) خپلې پاچاهی ته تر ډيلي پراختياورکړه. په ختيځه خوا (لوري) کښې ئي کشمير، لاهور او ملتان، او په لوديځه خوا کښې خراسان، په جنوب کښې ئی مکران هم فتح کړل. خو له بده مرغه د احمد شاه بابا د مرګ نه پس د هغه د دويم ځوی تيمورشاه او د احمد شاه بابا دنورو وارثانو د خپل منځي شخړو او جګړو له امله دغه لوی دولت بيرته وړو کې شو.
دوست محمد خان چې د ابدالي بارکزي کورنی څخه ؤ د احمد شاه بابا اخرني وارث ته ماته ورکړه او پخپله په **1838** ع کال کښې پاچا او د امير لقب ئي ځان ته غوره کړ.
د احمد شاه بابا د وارثانو څخه يو تن سدوزی شاه شجاع چې په **1800**ع کال کښې ئي ځان د پيښور پاچا باله، د انګريزانو څخه ئي د امير دوست محمد خان په مقابل کښې مرسته وغوښتله چې په جون **1839** ع کال کښې ئي د برتانوي-هندي پوځ سره د کندهار په لور حرکت وکړ د کندهار سر دارانو د هغه مقابله ونه کړه او په کندهار کښې د شاه شجاع سدوزي د بادشاه کېدلو اعلان وشو. او په اګست **1839** کښې ئي د انګريزانو په ملتيا او زور کابل هم ونيوه او امير دوست محمد خان فرار شو . په **1841** ع کال کښې پښتنو انګريزي پوځ ته ماتې ورکړه او هغه امير چې د انګريزانو له خوا په کابل کښې باچا شوی ؤ مړ کړی شو او جګړه روانه وه. د دې لپاره چې جګړه پای ته ورسېږي انګريزانو اميردوست محمد خان له هند نه بيرته کابل ته راوستو او د باچا په حيث ئي وپيژندو.

امیر دوست محمد خان له افغانستانه جلاشوي برخې لکه خلم، بلخ او کندوز بیرته فتح کړې او د افغانستان پوري ئي وتړلې.

دامیر دوست محمد خان د مرګ وروسته دده ځامنو هر یو غوښتل چې پاچا شي.له همدې امله ئي په خپلو منځونو کښې جګړې پیل کړي چې په نتیجه کښې محمد یعقوب خان بریالی شو. امیر محمد یعقوب د روسانو سره دوستانه او ښه روابط ټینګ کړل.

کله چې د ایرانیانو په مقابل کښې انګریزانو د امیر محمد یعقوب خان سره مرسته ونه کړه نو یعقوب خان د انګریزانو نه ناامېده شو ، اولدې امله د **1878** ع کال څخه تر **1880** ع کال پوري د انګریزانو او افغانانو جګړه وشوه.ددغه جګړي په وخت کښې چې یو انګریزي هیئت له کابل څخه بیرته تللو نو د پښتنو له لاسه ووژل شول.انګریزانو د بدل اخستلو په غرض پر پښتنو بیرته یرغلونه وکړل، خو انګریزان بریالي نه شول.

کله چې محمد یعقوب خان د انګریزانو له خوا فرار شو نو دده پرځای ئي عبدالرحمن خان لمړي د کندهار امیر کړ او بیا ئي په **1880** ع کال کښې د ټول هیواد واګې په لاس کښې ورکړې.

په **1893** ع کال کښې انګریزانو د امیر عبدالرحمن خان سره یو توافق لیک لاسلیک کړ چې د انګریزي هیئت د مشر ډیورنډ په نوم د ډیورنډ په کرښه مشهور شو. ډیورنډ سرحدي پوله نه وه، بلکې یوه انتظامي کرښه وه.

د امیر عبدالرحمن خان د مرګ وروسته انګریزانو په **1905** ع کال کښې دده ځوی حبیب الله خان ته د پاچاهۍ تاج ورپسر کړ.پدغه وخت کښې روسیانو غوښتل چې افغانستان ته ځان رانزدې کړي ددې په مقابل کښې انګریزانو د افغانستان سره یو تړون لاسلیک کړ چې د هغې پربنسټ به هر کال یو سلو شپیته زره پونډه افغانستان ته ورکوي.

د امیر حبیب الله خان د مرګ وروسته د هغه دځوی امیر امان الله خان په **1919** ع کال کښې د افغانستان پاچا شو.د پاچا کېدو سره سم ئي د افغانستان د خپلواکۍ غږ پورته کړاو په همدغه کال کښې ئي په راولپینډۍ کښې د انګریزانو سره د سولې یو تړون لاسلیک کړ چې له یوې خوا ئي پکښې د **1905** ع کال تړون تائید کړ او له بلې خوا افغانستان خپلواک او ازاد شو.دامیر امان الله خان وروسته د محمد زي کورنۍ پاچاهي په افغانستان کښې راغله.چې د نادرخان نه وروسته د محمدزیو د کورنۍ لومړی پاچا ظاهر خان ؤ.

ظاهر خان نسلي پښتون و خو د خپلې ژبې او کولتور څخه باالکل پردی شوی و په پښتو هیڅ نه پوهیده او پارسي غږیده.ده په خپله ۴۰ کاله باچاهۍ کې د دې هڅه هم نه ده کړې چې څو ټکې پښتو یاده کړي حال دا چې په افغانستان کې د ټول مېشته لږه کیو قومونو ( ازبکو، ترکمنو، تاجکو، هزاره، او داسي نورو ) له مجموعې څخه پښتانه ډیر زیات ؤ که د ظاهر شاه د باچاهۍ وخت په پام

کې ونیول شي نو پدغه وخت کې په نړۍ کې ستر بدلونه راغلي دي چې د پښتنو د قامي یووالي بې اغیزې نه و.دو یمه نړۍ واله جګړه پای ته ورسیده د ملګرو ملتونو موسسه(اقوام متحده ) جوړه شوه انګریزان د هند دنیمې وچې څخه وتلو ته مجبور شول، پاکستان په ۱۹۴۷ع کال کې جوړ شو او د پښتون قام نیم وجود په پاکستان کې پاتې شو.پدغه وخت کښې ظاهرشاه یو دوه مخی سیاست پیل کړ.له یوې خوا ئې د پښتنو ویش ومانه او په پاکستان کې ئې سفارت او قونسلګري جوړه کړه او له بلې خوا ئې ورسره د ښمني راواخیسته او ویل به ئې چې په پاکستان کې دمېشتو پښتنو یانې یوې برخې پښتنو حقوق غواړو چې د پښتونستان په نامه ځانته ملک جوړ کړی او افغانستان نه بیل وي.

په دې توګه ئې دا پوښتنه چې د کورنې سیاست پورې ئې اړه لرله د بهرني سیاست برخه وګرزوله او د اساسي قانون یاائین د بهرنې سیاست په برخه کې ئې ولیکل او د پښتونستان لفظ نه یوازې د پښتنو د ویش د ټینګولو او د پښتنو د قامي وحدت په ضد ۇ بلکې په افغانستان کې د پښتنو د ټکولو وسیله هم وه.په قام پرسته پښتنو به په پاکستان کې تورونه لګول کېده چې د افغانستان سره لاس لري او په افغانستان کې به پرې تورونه ګلول کېدل چې پاکستان سره لاس لري او په دې نامه به ځورول کېده.

ظاهرشاه پارس یاایران سره خپله دوستي دومره پخه کړه چې خپل دربار ئې د پارسیانو نمانیده ګی وګرزوله او د دنني ښکېلاک بنه ئې غوره کړه. ملک ازاد و خو ولس ئې محکوم و.